WNJS امیرزی، عمران الله.(۱۴۰۵). وردیکا د ټولنیزو علومو علمي څېړنیز ژورنال ، ۱(۱):۳۵-۵۰

څېړنیزه آزاده لاسرسی

# په وردګ ولایت کې د خصوصي تشبث د کموالي علتونه څېړل(څېړنیزه مطالعه)

نوماند پوهنیار عمران الله امیرزی[*۱]، پوهنمل غلام رباني شهامت[۲]، نوماند پوهنیار محمد زبیر ابراهیمي[۱]
۱.اداره او تجارت څانګه، اقتصاد پوهنځی، وردګ پوهنتون، وردګ، افغانستان
۲. ملي اقتصاد دیپارټمنت، اقتصاد پوهنځی، وردګ پوهنتون، وردګ، افغانستان
*د مسئول لیکوال بریښنالیک: emranamirzay23@gmail.com ، د اړیکي شمېره: ۰۰۹۳۷۷۰۶۰۹۷۸۲+

**لنډیز**

د خصوصي تشبث پراختیا د یوې ټولنې په اقتصادي وده کې اساسي رول لوبوي. دا چې وردګ ولایت په زیاته کچه طبیعي او بشري څواک لري بیا هم د خصوصي تشبثاتو شمېر یې ډېر محدود دی. څېړنه په همدې موخه ترسره شوې چې په یاد ولایت کې د خصوصي تشبث د کموالي علتونه راوسپړل شي او د ودې لپاره یې لارې چارې وړاندیز شي. دا چې په کیفي ډول راټوله شوې ډېټا د تحلیل په موخه کود ګذاري شوې نو معلوماتو ته په کتو دا یوه کیفي او کمي او هدف ته په کتو بیا تحلیلي او تشریحي څېړنه ده؛ چې لومړی لاس معلومات یې د پوښتنلیک له لارې راټول شوي او دویم لاس معلومات یې بیا د معتبرو علمي مقالو څخه ترلاسه شوي دي. د څېړنې په جمعیت کې د صنعت او تجارت ریاست او 10 تولیدي فابریکې شامليږي چې دوی د تشبث په برخه کې عملي پوهه او تجربه لري او له بلې خوا 15 تنه د پوهنتون مسلکي استادان او 94 تنه محصلین شامليږي چې دوی په یاده برخه کې غوره نظري پوهه لري چې ټول تعداد یې 120 کسان کیږي. د 95% باور او 5% خطا کچې په نظر کې نیولو سره Simple size Calculator په مرسته د جمعیت له هر قشر څخه په تصادفي 92 کسان د نمونې لپاره ټاکل شوي دي چې د پوښتنلیک معلومات بیا د SPSS 26 سافټ ویر په مرسته د مختلفو میتودونو ( Descriptive and Statistics One-Sample T-Test Cronbach Alpha ) تحلیل شوي. د څېړنې پایلې ښیي چې د خصوصي تشبث د کموالي علتونه په دریو برخوویشل شوی چې په لومړی کټګورۍ کې بهرني علتونه په اوسط ډول 4,46956 په دویمه کټګورۍ کې داخلي علتونه په اوسط ډول 4,42608 او په دریمه کټګورۍ کې بیا د دولت اقتصادي پالیسي په اوسط ډول 4,29892 د خصوصي تشبث پر وړاندې اشد خنډونه ګڼل کیږي.

**کلیدي کلمې:** تشبث، پانګه ونه، خصوصي تشبث، علتونه، کاري فرصتونه، وردګ ولایت

**د مقالې تاریخچه:**
د مقالې ترلاسه کولو نیټه: ۱۴۰۴/۱۲/۳
د مقالې منلو نیټه: ۱۴۰۴/۱۲/۲۶
د مقالې خپرولو نیټه: ۱۴۰۵/۲/۳۰

**ددې مقالې استناد:**
امیرزی، عمران الله او همکاران.(۱۴۰۵). په وردګ ولایت کې د خصوصي تشبث د کموالي علتونه څېړل( څېړنیزه مطالعه). وردیکا علمي څېړنېزه د ټولنیزو علومو ژورنال، ۱ (۱):۳۵-۵۰

دغه ژورنال د وردګ پوهنتون په چوکاټ کې د لوړو زدکړو وزارت د رسمي جواز پر اساس فعالیت کوي.

CC BY
وردګ پوهنتون علمي څېړنیز نشرات (۱۴۰۵)

زموږ سره اړیکی: ۰۰۹۴۷۴۵۶۰۶۳۱۷+
**ایمیل**: rjd@wu.edu.af
**آدرس**: سیدآباد ولسوالی، ټوپ دښته میدان وردګ ولایت-افغانستان

آزاده لاسرسی
څېړنیزه

# An Analysis of the Causes Behind the Decline of Private Entrepreneurship in Wardak Province

Teaching Assistant Emran Ullah Amirzay*[1], Senior Teaching Assistant Ghulam Rabani Shahamat[2], Teaching Assistant Mohammad Zabir Ibrahimi[1]

1. Academic Member, Department of BBA, Wardak University
2. National Economics Department, Economics Faculty, Wardak University, Afghanistan

*Corresponding author Email: emranamirzay23@gmail.com ,Tel:+93770609782

**Article History:**
Received: 22. 02.2026
Accepted: 27. 03.2026
Online First: 20. 05.2026

**Citation:**
Amirzai, A., et al. (2026). An Analysis of the Causes Behind the Decline of Private Entrepreneurship in Wardak Province. *Wardika J of Soc Sci* 2026;1(1):35-50

Email: rjd@wu.edu.af
This is an open access article under the Higher Education license

**Copyright**:© 2026 Published by Wardak Universty.


## Abstract

The development of private enterprises plays a fundamental role in the economic growth of a society. Although Wardak Province possesses significant natural and human resources, the number of private enterprises in the province remains very limited. This study was conducted to explore the causes of the low level of private enterprise in the province and to propose strategies for its development. The research employs both qualitative and quantitative approaches and, in terms of its objective, is analytical and descriptive. Primary data were collected through questionnaires, while secondary data were obtained from credible academic articles. The study population included the Directorate of Industry and Commerce and ten manufacturing factories whose members have practical knowledge and experience in entrepreneurship. In addition, fifteen university professors and ninety-four students with strong theoretical knowledge in this field were included, making a total population of 120 participants. Considering a 95% confidence level and a 5% margin of error, a random sample of 92 respondents was selected using a sample size calculator. The questionnaire data were analyzed using IBM SPSS Statistics (version 26) through several statistical methods, including descriptive statistics, One-Sample T-Test, and Cronbach's Alpha. The findings indicate that the causes of the limited development of private enterprises fall into three categories: external factors with a mean value of 4.46956, internal factors with a mean value of 4.42608, and government economic policies with a mean value of 4.29892, all of which are considered major obstacles to the development of private enterprises.


**Keywords:** Entrepreneurship, investment, private enterprise, causes, employment opportunities, Wardak Province.

**سریزه**

خصوصي تشبثات عموما د خصوصي پانګوالو لخوا پرمخ وړل کیږي  او په اقتصاد کې زیاتره تولیدي او خدماتي فعالیتونه ترسره کوي. یاد تشبثات نه یوازې دا چې په هیواد کې کاري فرصتونه ایجادوي بلکې د اقتصادي ودې لپاره هم زمینه مساعدوي. څرنګه چې له یوې خوا په پرمختیایي هیوادونو کې د ژوندانه کچه ټیټه او د وزګارتیا کچه پکې لوړه وي او له بلې خوا خصوصي تشبثات د اقتصاد لپاره د محرقه (په حرکت راوستونکې) قوې  حیثیت لري. دا چې په وردګ ولایت کې د خصوصي تشبثاتو شمېر ډیر محدود دی او د محدودیت علتونه یې هم تر دې مهاله نه دي څېړل شوي. نو په همدې اساس اړتیا محسوس کیږي چې په یاد ولایت کې د خصوصي تشبثاتو د پراختیا پر وړاندې موجوده خنډونه له منځه یوړل شي او بالاخره له شته فرصتونو څخه په استفادې د نویو خصوصي تشبثاتو ایجاد ته زمینه مساعده شي (arif, 2020).

افغانستان سره له دې چې په زیاته پیمانه طبعي او بشري زیرمې لري.  مګر د تیرو اوږد مهاله جګړو، سیاسي بې ثباتۍ او اداري کمزورتیا له امله نه دی توانیدلی چې د خصوصي تشبثاتو  د ودې او پراختیا په برخه کې ګرندي ګامونه اوچت کړي. په خاصه توګه وردګ ولایت چې له غوره ستراتیژیک موقعیت او پراخه بشري ځواک څخه برخمن دی او کولای شي چې له یاد فرصت څخه په استفادې کافي اندازه تشبثات رامنځته کړي تر څو د هیواد په اقتصادي وده کې سهیم وګڼل شي. مګر موجوده وضعیت ته په کتو د صنعت او تجارت ریاست د معلوماتو له مخې څرګندیږي چې د یاد ولایت په مرکز میدان ښار کې د خصوصي تشبثاتو په محدوده کې یوازې 10 تولیدي فابریکې شتون لري چې دا یو ډیر کوچنی شمېر ګڼل کیږي (Ministry of Economy of the Islamic Republic of Afghanistan, 2021). دغه څېړنه هم په دې موخه ترسره کیږي تر څو په وردګ ولایت د خصوصي تشبثاتو د کموالي علتومه او حل لارې وموندل شي.

**د څېړنې موخې**

۱. په وردګ ولایت کې د خصوصي تشبث د کموالي علتونه څېړل.

۲. په وردګ ولایت کې د خصوصي تشبث د ودې لارې چارې واضح کول.

### د څېړنې فرضيې

**د څېړنې صفري فرضیه($H_0$):**

دا خلي علتونه، بهرني علتونه او د دولت پالیسی د خصوصي تشبث د پیل او پراختیا په وړاندې کوم خنډ نه رامنځته کوي.

**د څېړنې بدیله فرضیه($H_1$):** داخلي علتونه، بهرني علتونه او د دولت پالیسی د خصوصي تشبث د پیل او پراختیا په وړاندې اساسي خنډ رامنځته کوي.

### د څېړنې ستونزه

د خصوصي تشبث پراختیا په یوه ټولنه کې له شته امکاناتو او منابعو څخه استفادې ته لاره هواروي او په اقتصادي وده کې اساسي رول لوبوي. دا چې وردګ ولایت پریمانه طبیعي او بشري ځواک لري خو له یاد ځواک څخه مؤثره استفاده نه ده شوې او د خصوصي تشبثاتو شمیر یې ډیر محدود دی. په وردګ ولایت کې د خصوصي تشبثاتو د کموالي په علتونو پوهیدل یوه ستره علمي خلا را په ګوته کوي. دا چې په یاد ولایت کې تر دې مهاله داسې کومه څېړنه هم نه ده شوې تر څو د خصوصي تشبثاتو د کموالي علتونه او د پراختیا لارې چارې پکې وړاندې شي؛ نو ددې علمي او عملي خلا د ډکولو په خاطر اړتیا لیدل کیږي تر څو هغه علتونه وڅېړل شي چې په خصوصي تشبث کې د کموالی سبب کیږي او په مقابل کې داسې حل لارې وړاندیز شي تر څو د عمل په ډګر کې د خصوصي تشبثاتو د ودې لپاره زمینه مساعده شي.

### د څېړنې اهمیت

د دې څېړنې په مرسته به له یوې خوا د خصوصي تشبثاتو ستونزې او غوښتنې وپېژندل شي او له بلې خوا به پالیسی جوړونکو، سیمه ییزو ادارو او صنعتي بنسټونو ته د تصمیم نیونې په برخه کې معلومات برابر شي. همدارنګه د دغه څېړنې په مرسته به د خصوصي تشبثاتو د ودې او پراختیا لپاره واضح لید لوری وړاندې شي.

### تیرو لیکنو ته کتنه( Literature Review)


**د خصوصي تشبث پیژندنه:** خصوصي تشبثات چې د 19 پیړی راهیسې په ملي او نړیواله کچه فعالیت کوي د ټولنې په اقتصادي وده کې مهم رول لري، دغه تشبثات په ټولنه کې د تولید، صنعت، ساختمان او خدماتو په برخه کې بوخت دي. په فنلنډ هیواد کې خصوصي تشبثات د ټولو تصدیو 80% برخه جوړوي چې 46% یې بیا منځني تشبثات ګڼل کیږي( Butler, 2021 ).

**کوچنۍ او منځنۍ اندازه تشبثات (Small And Medium-Size Enterprises):**

کوچني او منځني تشبثات چې د (SMEs) مشترکه اصطلاح هم ورته کارول کیږي په مختلفو هیوادونو کې د مختلفو معیارونو په اساس تعریف کیږي. لکه: د کارکونکو شمیر، د شتمنیو ارزښت، د پلور او محصول حجم. د بیلګې په توګه په فرانسه کې چې کوم تشبثات له ۵۰۰ څخه لږ شمیر کارمندان ولري هغې ته د(SMEs) اصطلاح کارول کیږي. په جاپان کې (SMEs) بیا هغه تشبثاتو ته کارول کیږي چې ټوله سرمایه یې له ۱۰۰ میلونه ین څخه لږ وي (Baloch, 2017). په خوست ولایت کې یوه څېړنه ترسره شوې وه چې هدف یې د خصوصي سکتور د پراختیا پروړاندې د خنډونو څېړل وو. په دغه څېړنه کې لومړی لاس معلومات د خوست ولایت د ښاري کاروباریانو څخه د پوښتنلیک په وسیله راټول شوي دي. د څېړنې پایلې ښیي چې د برښنا او خامو موادو د کموالی له امله د خصوصي تشبث پراختیا له خنډ سره مخ شوې ده چې دا ډول خنډونه په وردګ ولایت کې هم تشبثات زیانمن کولای شي (Nawabzada, 2020). ددې تر څنګ په کندهار کې ولایت کې یوه بله څېړنه د (case study) په ډول تر سره شوې وه چې هدف یې په کندهار ولایت کې د تشبث له لارې د کار موندنې ارزونه وه. د هدف د ترلاسه کولو لپاره د ۱۵۰ تنه کاروباروپانو څخه د پوښتنلیک له لارې لومړی لاس معلومات ترلاسه شوي دي. د څېړنې پایله کې څرګنده شوې چې تشبث د کار موندنې او اقتصادي ودې لپاره مهم رول لري. همدارنګه د څېړنې په نتیجه کې وړاندیز کیږي چې د برښنا سکتور کې اصلاحات راوستل شي، قومي او سیاسي کړکېچونه حل شي، د بنسټیزو خدماتو پراختیا رامنځته شي. همدارنګه په صنعتي پارکونو کې تشبث‌کوونکو ته وړیا ځمکې برابرې شي (Mudasir, 2019). همدارنګه یوه بله څېړنه په افغانستان کې په دې موخه ترسره شوې وه چې د کوچنیو او منځنیو تشبثاتو په وده باندې د اغیزمنو فکتورونو ارزونه کړې ده. په یاده څېړنه کې لومړی لاس معلومات د ۱۵۰ تشبثاتو د لوړې او منځني سطحې له مدیرانو څخه د پوښتنلیک په وسیله را ټول شوي دي. د څېړنې له پایلو څخه لیدل کیږي چې د تشبثاتو په وده باندې دا خلي او خارجي فکتورونه اغېزه کوي. په داخلي فکتورنو کې د تولیداتو لپاره بازارموندنه، تکنالوژي، مهارتي کارکوونکي او د کاروبار سطحې شاملې دي. همدارنګه په خارجي فکتورونو کې بیا د دولت رول، تحصیلي نصاب، د تشبثاتو اړونده پوهه، مالي منابعو ته لاسرسی، د مشتریانو وفاداري او د بهرنیو کمپنیو سره رقابت ته اشاره شوېده. چې دا هر یو فکتور بیا د کوچنیو او منځنیو تشبثاتو په وده باندې اغیزه کوي (Shinwari & Adel, 2019). د دې ترڅنګ یوه بله

څېړنه چې په امریکا کې د تشبث کموالي د علتونو تر عنوان لاندې ترسره شوې ده. د څېړنې موخه دا وه چې د تشبث د کموالي علتونه په نښه کړي. د څېړنې له پایلې څخه لیدل کیږي چې د شخصي مالکیت کمښت، لوړ روغتیایي لګښتونه او د شرکتونو لپاره بدلیدونکي چاپېریال هغه عوامل دي چې د تشبث د کموالي باعث کیږي. همدارنګه د څېړنې په پایله کې وړاندیز کیږي چې لوی شرکتونه باید ترکنټرول لاندې وي ځکه چې دا په اقتصادي نظام زیاته اغیزه لري. همدارنګه د کوچنیو شرکتونو څخه مالي ملاتړ وشي تر څو د رقابت توانایي وومومي او بالاخره د تشبث رامنځته کیدو ته زمینه برابره شي (Flomberg, 2020) یوه بله څېړنه چې د صربیا د کوچنیو او منځنیو تشبثاتو د پرمختګ ترعنوان لاندې ترسره شوې ده؛ په دغه څېړنه کې د 2015-2020 کلنو ترمنځ د تصدیو پرمختګ څېړل شوی دی. د څېړنې پایله واضح کوي چې د خصوصي تشبثاتو سکتور د پراختیا وړتیا لري؛ همدارنګه په دغه ورستیو کلونو کې د کوچنیو او منځنیو تشبثاتو بنسټونه ددې باعث شوي دي چې اقتصادي جریان په حرکت راولي، د سیالۍ کچه ورسره لوړه شي، د کاري فرصتونو ایجاد ورسره رامنځته شي. چې په ټوله کې اقتصادي ودې او پرمختګ ته لاره هواره کړي (Orlandić & Blagoevska,2023). همدارنګه یوه بله څېړنه په ازبکستان هیواد کې په دې موخه ترسره شوې وه تر څو د کوچنیو او منځنیو تشبثاتو پر وړاندې شته فرصتونه او ننګونې تشخیص شي. د هدف د ترلاسه کولو لپاره لومړی او دویم لاس معلومات کارول شوي دي. لومړی لاس معلومات د 384 ګډونوالو څخه د پوښتنلیک په وسیله راټول شوي دي. د څېړنې پایلې ښیي چې د مالیې معافیتونه او سبسایډي، د صادراتي توکو لپاره امتیازات، او د نویو دندو د رامنځته کولو لپاره د مالیې تشویقي تګلارې د تشبثاتو لپاره فرصتونه ګڼل کیږي او بل لوري ته کمزوري زیربنایي جوړښت، د مسلکي کارکوونکو کمښت، د پورونو د تخصیص سیستم له خنډ سرخ مخ کوي، او لوړ سود نرخ بیا د کوچنیو او منځنیو تشبثاتو لپاره ننګونې ګڼل کیږي (Gaybullaev & Oliński, 2020). یوه بله څیړنه په دې موخه ترسره شوې ده چې د ټولنیزو تشبثاتو لپاره د ورکړل شوي عامه مالي ملاتړ مؤثریت ارزوي. د هدف د ترلاسه کولو لپاره له 22 ټولنیزو تشبثاتو څخه معلومات راټول شوي دي. د څېړنې له پایلو څخه لیدل کیږي چې د ټولنیزو تشبثاتو څخه د دولت عامه مالي ملاتړ کول مؤثریت لري (Oliński, 2020).

**د څیړنې ماډل:** د څېړنې په ماډل کې دوه ډوله متحولین په نظر کې نیول شوي چې آزاد متحولین یې داخلي علتونه، بهرني علتونه او د دولت اقتصادي پالیسۍ په نظر کې نیول شوي دي او د خصوصي تشبث کموالی بیا د تابع متحول په ډول مطالعه شوي ده. د وضاحت لپاره د لاندې دیاګرام ته کتنه وشي:




۱.دیاګرام: د خصوصي تشبث د کموالي علتونو پیژندنه

د پورته (۱) د یاګرام څخه لیدل کیږي چې خصوصي تشبث د تابع متحول په ډول د دریو عمده علتونو له امله متأثره کیږي. چې هر یو علت بیا د آزاد متحول په ډول له ځان سره نور ابعاد هم لري چې د خصوصي تشبث پر وړاندې خنډ واقع کیږي.

## د څیړنې میتودولوژي(Research Methodology)

**د څیړنې ډیزاین:** یاده ترسره شوې څېړنه معلوماتو ته په کتو یوه ګډه څېړنه ده چې کیفي ډېټا یې د پوښتنلیک له لارې راټوله شوې او د تحلیل لپاره کوډ ګذاري شوې ده؛ او هدف ته په کتو بیا تحلیلي او تشریحي څیړنه بڼه لري چې د تحلیل په نتیجه کې ترلاسه پایلې تشریح شوې او د څېړنې پوښتنو ته ځواب موندل شوی دی.

**د څېړنې نفوس:** د وردگ ولایت اړوند د صنعت او تجارت ریاست، (۱۰) تولیدي فابریکې، د اقتصاد او کرنې پوهنځي (۱۵) تنه مسلکي استادان او د اقتصاد پوهنځی (۹۴) تنه محصلین د څېړنې په جمعیت کې شامل دي چې مجموعي تعداد یې (۱۲۰) ته رسیږي.

**د نمونه اخیستنې میتود:** د احتمالي نمونه اخیستنې له قشري میتود څخه استفاده شوې ده؛ جمعیت په څلورو قشرونو ویشل شوی چې د ۹۵% باور او ۵% خطا کچې په نظر کې نیولو سره د Simple size Calculator په مرسته ۹۲ کسان د هر قشر څخه په تصادفي ډول د نمونې لپاره انتخاب شوی دی. لومړی لاس معلومات د پوښتنلیک له لارې راټول شوي دي او دویم لاس معلومات بیا د باوري علمي مقالو او ویب سایټونو څخه ترلاسه شوي دي.

**د پوښتنلیک ډیزاین:** پوښتنلیک په څلورو برخو ویشل شوی دی چې لومړی برخه یې عمومي معلومات، دویمه برخه د تشبث داخلي عوامل، دریمه برخه یې بهرني عوامل او څلورمه برخه یې بیا د دولت اړونده اقتصادي پالیسی په بر کې نیسي. د تړلو او خلاصو پوښتنو څخه په کې استفاده شوې ده. د هرې پوښتنې لپاره د لیکرټ سکیل پنځه درجې ورکړل شوې چې د متشبثینو، استادانو او محصلینو لخوا ځواب شوی دی. د پوښتنلیک د اعتبار کچې معلولو لپاره د Reliability آزموینه ترسره شوې چې د داخلي علتونو لپاره 0.827 ، د بهرنیو علتونو لپاره 0.865 او د دولت اقتصادي پالیسو لپاره 0.760 ښودل شوې نسبتآ قوي او د منلو وړ اعتبار لرونکي گڼل کیږي

**د فرضیې آزمایښت:** د څېړنې اړوند لومړی صفري فرضیه ټاکل شوې وه چې د One-Sample T-Test په مرسته ازمایښت شوې او د آزمایښت په نتیجه کې بیا بدیله فرضیه رامنځته شوې ده.

**د معلوماتو تحلیل:** راټوله شوې ډیټا د SPSS 26 سافټ ویر په مرسته د مختلفو میتودونو ( and One-Sample T-Test Descriptive Statistics ) تحلیل شوې دي.

**د معلومات تحلیل او پایلې (Data analysis and Results):**

دا چې لومړی لاس معلومات د پوښتنلیک په وسیله راټول شوي دي ؛ ترلاسه شوې معلومات بیا د SPSS26 سافټ ویر پر مټ تحلیل شوي دي چې د Descriptive Statistics and Cronbach Alpha پایلې یې د لاندې جدولونو له مخې تفسیر شوې دي:

**۱. جدول: د پوښتنلیک د اعتبار کچه**

| برخې | الفا کرونباخ | د پوښتنو شمېر |
|---|---|---|
| داخلي علتونه | ,827 | 5 |
| بهرني علتونه | ,865 | 5 |
| د دولت اقتصادي پالیسي | ,760 | 4 |

له پورته (۱) جدول څخه لیدل کیږي چې د داخلي علتونو اړونده پوښتنو ترمنځ Cronbach's Alpha = 0,827 ښودل شوی دی، د بهرنیو علتونو ترمنځ Cronbach's Alpha = ,865 او د دولتي پالیسي اړونده پوښتنو ترمنځ بیا Cronbach's Alpha =,760 ښودل شوی دی. نو په اساس د پوښتنلیک د ټولو برخو د پوښتنو ترمنځ Reliability قوي او د منلو وړه ده.

**۲. جدول: عمومي معلومات**

| Items | | Frequency | Percent | Valid Percent |
|---|---|---|---|---|
| جنډر | نارینه | 92 | 100,0 | 100,0 |
| عمر | کلونو پوري 26-18له | 72 | 78,3 | 78,3 |
| | کلونو پوري 35-27له | 20 | 21,7 | 21,7 |
| دزده کړو کچه | دولسم پاس | 78 | 84,8 | 84,8 |
| | لیسانس | 4 | 4,3 | 4,3 |
| | ماستر | 10 | 10,9 | 10,9 |
| د نده | د پوهنتون استادان | 13 | 14,1 | 14,1 |
| | محصلان | 72 | 78,3 | 78,3 |
| | متشبثین | 6 | 6,5 | 6,5 |
| | د صنعت او تجارت ریاست کارکونکي | 1 | 1,1 | 1,1 |

له پورته (۲) جدول څخه ليدل کيږي چې د جنسيت له پلوه د څېړنې ټول ګډونوال نارينه قشر تشکيلوي. د عمر له پلوه د څېړنې 78,3% ګډونوال د (18-26) کلونو عمر لرونکي او 21,7% ګډونوال بيا د (27-35) کلونو عمر لرونکي وګړي شميرل کيږي. د تحصيلي درجې له پلوه د څېړنې 84,8% ګډونوال دولسم پاس، 4,3% يې ليسانس او 10,9 % نور بيا د ماسترۍ په کچه زده کړې لري. همدارنګه د دندو له پلوه بيا د څېړنې 41,1% ګډونوال د پوهنتون مسلکي استادان، 78,3% يې د اقتصاد پوهنځي محصلان ، 6,5 % کاروباروبان او 1,1% نور د صنعت او تجارت اړوند دولتي کارکونکي تشکيلوي.

**۳. جدول: د داخلي علتونو د مختلفو ابعادو د اوسط ارزښتونه**

| Items | N | Minimum | Maximum | Mean | Std. Deviation |
|---|---|---|---|---|---|
| د شخصي سرمايې کموالی | 92 | 1,00 | 5,00 | 45,326 | ,77674 |
| د کورنۍ او دوستانود ملاتړ نشتون | 92 | 3,00 | 5,00 | 42,826 | ,77497 |
| د مسلکي پوهې او مهارتونو کموالی | 92 | 2,00 | 5,00 | 44,457 | ,59971 |
| د تشبث د اهميت په هکله د عامه پوهاوي کموالی | 92 | 2,00 | 5,00 | 44,239 | ,75932 |
| د ناکامۍ څخه ويره او په ځان باندې د خطر نه منل | 92 | 3,00 | 5,00 | 44,457 | ,52129 |

له پورته(۳) جدول څخه ليدل کيږي چې د داخلي علتونو د ټولو ابعادو لپاره د کارول شوي ليکرټ سکيل اوسط ارزښت له 4.21 څخه لوړ دی؛ نو په همدې اساس ويلی شوو چې د داخلي علتونو ټول مورد نظر ابعاد په ډير شديد ډول د خصوصي تشبث د کموالي لامل کيږي؛ د داخلي علتونو له ابعادو څخه هم تر ټولو لوړ اغيزمن بعد بيا د شخصي سرمايې کموالی دی چې د خصوصي تشبث د ودې پر وړاندې مهم خنډ ګڼل کيږي.

**۴. جدول: د بهرنيو علتونو منځني ارزښتونه**

| Std. Deviation | Mean | Maximum | Minimum | N | Items |
|---|---|---|---|---|---|
| ,80491 | 45,217 | 5,00 | 2,00 | 92 | د داخلي مارکيټ کمزورتيا او د مشتريانو کموالی |
| ,75046 | 42,500 | 5,00 | 3,00 | 92 | نړيوال مارکيټ ته د لاسرسي نشتون |
| ,60209 | 45,109 | 5,00 | 2,00 | 92 | د مسلکي اشخاصو کموالی |
| ,85806 | 45,000 | 5,00 | 1,00 | 92 | بهر ته د سرمايي فرار |
| ,61670 | 45,652 | 5,00 | 1,00 | 92 | په داخل کې د خامو موادو کموالی او لوړ نرخونه |

له پورته (۴) جدول څخه ليدل کيږي چې د بهرنيو علتونو د ټولو ابعادو لپاره د کارول شوي ليکرټ سکيل اوسط ارزښت هم له 4.21 څخه لوړ دی؛ نو په همدې اساس د بهرنيو علتونو ټول د نظر وړ اړخونه په ډېر شديد ډول د خصوصي تشبث د کموالي لامل کيږي؛ د بهرنيو علتونو له ابعادو څخه هم تر ټولو لوړ اغيزمن بعد بيا د توليد لپاره د خامو موادو کموالی او لوړ نرخونه دي چې د خصوصي تشبث د ودې پر وړاندې مهم خنډ ګڼل کيږي.

**۵. جدول: د دولت د اقتصادي پاليسيو د مختلفو ابعادو د اوسط ارزښتونه**

| Std. Deviation | Mean | Maximum | Minimum | N | Items |
|---|---|---|---|---|---|
| ,78347 | 43,152 | 5,00 | 3,00 | 92 | په وارداتو باندې د لګول شوو تعرفو کموالی |
| ,56112 | 42,826 | 5,00 | 2,00 | 92 | پر عايداتو باندې د مالياتو لوړ نرخونه |
| ,58243 | 43,478 | 5,00 | 2,00 | 92 | د يو فعاليت د پيل کولو لپاره د قانوني مراحلو پيچلتيا |
| ,63980 | 42,500 | 5,00 | 1,00 | 92 | د دولتي پورونو او مرستو کموالی |

له پورته (۵) جدول هم څخه ليدل کيږي چې د دولت د اقتصادي پاليسيو اړونده علتونو د ټولو ابعادو لپاره د کارول شوي ليکرټ سکيل اوسط ارزښت له 4.21 څخه لوړ دی؛ نو په همدې

اساس د دولتي پالیسیو اړونده علتونو ټول تر نظر لاندې اړخونه هم په ډېر شدید د خصوصي تشبث د کموالي لامل کیږي؛ د دولت د اقتصادي پالیسیو اړونده علتونو له ابعادو څخه تر ټولو لوړ اغیزمن بعد بیا د یو فعالیت د پیل کولو د قانوني مراحلو پیچلتیا ده چې د خصوصي تشبث د ودې پر وړاندې مهم خنډ ګڼل کیږي.

**د خصوصي تشبث د کموالي اړونده Computed شوو علتونو پېژندنه:**

د خصوصي تشبث د کموالي علتونه په دریو برخو (داخلي علتونه، بهرني علتونه او د دولت اقتصادي پالیسو) باندې ویشل کیږي؛ چې په دا خلي علتونو کې یې بیا د شخصي سرمایې کمښت، د کورنۍ او دوستانو د ملاتړ نشتون، د مسلکي پوهې او مهارتونو کمښت، د خصوصي تشبث د اهمیت په هکله د عامه پوهاوي نشتون او د خصوصي تشبث د ناکامۍ څخه ویره او په ځان باندې د خطر نه منلو ابعاد شامل دي. همدارنګه د بهرنیو علتونو په جمله کې د داخلي مارکیټ کمزورتیا، نړیوال مارکیټ ته د لاسرسي نشتون, د مسلکي مهارت لرونکو اشخاصو نشتون, بهر ته د سرمایې وړل او په داخل کې د خامو موادو کمښت شامل دي. ددې تر څنګ د دولت د اقتصادي پالیسیو په برخه کې په وارداتو باندې د لګول شوو تعرفو کموالی, پر عایداتو باندې د مالیاتو لوړوالی, د یو نوي فعالیت د پیل کولو د قانوني مراحلو پیچلتیا او د داخلي صنعت سره د مرستو او پورونو کموالی اړونده ابعاد شامل دي. چې د اوسط ارزښتونو د مقایسې د آسانتیا په موخه د هرې برخې اړونده ابعاد سره Computed شوي دي.

**٦. جدول: د خصوصي تشبث د کموالي اړونده علتونو د اوسط ارزښتونو مقایسوي راپور**

| Std. Deviation | Mean | Maximum | Minimum | Range | N | Items |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 0,533878 | 442,608 | 5,00 | 3,00 | 2,00 | 92 | داخلي علتونه |
| 0,593322 | 446,956 | 5,00 | 2,20 | 2,80 | 92 | بهرني علتونه |
| 0,452768 | 429,892 | 5,00 | 2,75 | 2,25 | 92 | د دولت پالیسی |

له پورته (٦) جدول څخه معلوم کیږي چې په داخلي علتونو کې د ټولو ابعادو د کارول شوي لیکرټ سکیل اوسط ارزښت 4,42608 ته رسیږي. همدارنګه د بهرنیو علتونو د ټولو ابعادو

کارول شوي لیکرټ سکیل اوسط ارزښت 4,46956 ته رسیږي. ددې تر څنګ د دولت اقتصادي پالیسی په برخه کې د اړونده ابعادو د کارول شوي لیکرټ سکیل اوسط ارزښت بیا 4,29892 ته رسیږي. اوس که یادو کارول شوو لیکرټ سکیل ارزښتونو تحلیل ته کتنه وشی نو لیدل کیږی د هرې برخې د کارول شوي لیکرټ سکیل اوسط ارزښت له 4,21 څخه لوړ دی؛ دا په دې مانا چې ټول علتونه د خصوصي تشبث په کموالي کې ځنډ ګڼل کیږي. د ټولو علتونو د کارول شوي لیکرټ سکیل د اوسط ارزښتونو له مقایسه کولو څخه لیدل کیږي چې لومړی بهرني علتونه, دویم داخلي علتونه او درېیم بیا د دولت اقتصادي پالیسی په شدید ډول د خصوصي تشبث د کموالي لامل کیږي.

**د فرضیې آزمایښت:**

د څېړنې اړوند صفري فرضیه د One-Sample T-Test په مرسته آزمایښت شوي او نتیجه یی په لاندې جدول کې ښودل شوې ده.

**۷Test One-Sample. جدول: د صفري فرضیې د آزمایښت اړوند**

| Items | t | df | Sig. (2-tailed) | Mean Difference | 95% Confidence Interval of the Difference Lower | Upper |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | Test Value = 3 | | | |
| داخلي علتونه | 25,621 | 91 | ,000 | 142,609 | 13,155 | 15,367 |
| بهرني علتونه | 23,757 | 91 | ,000 | 146,957 | 13,467 | 15,924 |
| د دولت اقتصادي پالیسی | 27,517 | 91 | ,000 | 129,891 | 12,051 | 13,927 |

کله چې د One-Sample T-Test په نتیجه کې $\leq 0$ p-value Or Sig . (2-tailed) نو په دې صورت کې صفري فرضیه رد کیږی او بدیله فرضیه قبلیږي (Frick, 1995). دلته هم له پورته (۷) جدول څخه څخه معلومیږي چې د ټولو متحولینو لپاره $= 0.000$ **(2-tailed)** . **p-value Or Sig** نو په همدې اساس صفري فرضیه رد او بدیله فرضیه قبلیږي.

**مناقشه (Discussion):**

د تیرو لیکنو څخه څرګندیږي چې د خصوصي تشبث وده د مختلفو داخلي او بهرنیو علتونو لکه- د برښنا نشتون، د خامو موادو کموالی، د شخصي سرمایې کموالی، د زیربنایي جوړښتونو کموالی، بدلیدونکی چاپیریال او دیته ورته نورو علتونو له امله متأثره کیږی. په دغه څېړنه کې هم د خصوصي تشبث د کموالي یو شمېر علتونه څېړل شوي دي، چې تر ټولو مهم یې بهرني علتونه ګڼل کیږي. په بهرنیو علتونو کې مختلف ابعاد لکه- د داخلي مارکیټ کمزورتیا او د مشتریانو کموالی، نړیوال مارکیټ ته د پراخه لاسرسي نشتون، د مسلکي اشخاصو کموالی، بهر ته د سرمایې وړل او په داخل کې د خامو موادو کموالی شامل دي چې په ډیر شدید ډول د خصوصي تشبث د کموالی باعث کیږي. د دې لپاره چې د بهرنیو علتونو دغه منفي اغېز په ښه توګه مهار شي نو اړتیا ده چې هر کاروبار خپل مارکیټ مطالعه کړي او د مشتریانو د جذب لپاره ښه اعلانات، مناسب قیمت او غوره کیفیت انتخاب او عملي کړي. همدارنګه نړیوال مارکیټ ته د لاسرسي په موخه ملي او نړیوال ستندردونه په تولیدي پروسه کې عملي شي، بهر ته د سرمایې وړلو د مخنیوي په برخه کې دولت او مرکزي بانک یو منظم میکانیزم په لاره واچوي. تر څو د خصوصي تشبث ودې ته زمینه برابره شي. همدارنګه له بلې خوا په داخلي علتونو کې هم مختلف ابعاد لکه- د شخصي سرمایې کمښت، د کورنۍ او دو ستانو د ملاتړ نشتون، د مسلکي پوهې او مهارتونو کمښت او د تشبث د اهمیت په هکله د عامه پوهاوي نشتون له بهرنیو علتونو وروسته د خصوصي تشبث د کموالي سبب کیږی. د دې لپاره چې د داخلی علتونو ناوړه اغېزې په ښه توګه مهار شي نو اړتیا ده چې د نویو مهارتونو د ترلاسه کولو لپاره هڅې ترسره شي، د مجربو کارباریانو سره مشوره وشي، درسي نصاب د بازار د غوښتنو سر سم ترتیب شي، د مختلفو پروګرامونو له لارې د تشبث د اهمیت په هکله خلکو ته انګیزه ورکړل شي. ددې تر څنګ د دولت د اقتصادي پالیسیو په برخه کې هم یو شمیر ابعاد لکه- په وارداتو باندې د لګول شوو تعرفو کموالی، د مالیاتو لوړ نرخ، د یو فعالیت د قانوني جواز ترلاسه کولو د پروسې پیچلتیا او د دولتي پورونو/ مرستو کموال په نظر کی نیول شوي دي چې له دا خلي علتونو وروسته د خصوصي تشبث د کموالي لامل کیږی. په یاده برخه کې دولت کولای شي له کمزوزو کاروبارونو سره مرستې وکړي، په وارداتو باندې لوړې تعرفې وضع کړي او پر عایداتو باندې د لګول شوو مالیاتو په نرخ کې کموالی راولي تر څو د خپل ځوان داخلي صنعت ودې او پراختیا ته زمینه برابره شي.

په پایله کې یادې څېړنې پایلې هم له تیرو لیکنو سره ورته والی لري. د دغه څېړنې نوښت یوازې په دې کې دی چې دلته د خصوصي تشبث د کموالي مهم علتونه درجه بندي شوي دي تر څو په راتلونکي کې د هغه مهمو علتونو مهار کولو ته د لمړیتوب له مخې پاملرنه وشي.

**پایله (Conclusion)**

د څېړنې پایلې ښيي چې د خصوصي تشبث کموالی د بېلابېلو علتونو له امله رامنځته کیږی. یاد علتونه په درېیو برخو ویشل شوی چې لومړی بهرني علتونه، دویم داخلي علتونه او درېیم بیا د دولت پالیسی په شدید ډول د خصوصي تشبث د پراختیا پر وړاندې خنډ واقع کیږي. په بهرنیو علتونو کې د داخلي مارکیټ کمزورتیا او د مشتریانو کموالی، نړیوال مارکیټ ته د پراخه لاسرسي نشتون، د مسلکي اشخاصو کموالی، بهر ته د سرمایې فرار او په دا خل کې د خامو موادو کموالی شامليږي چې په ډیره شدید ډول د خصوصي تشبث د کموالي باعث کیږي. همدارنګه په داخلي علتونو کې د شخصي سرمایې کمښت، د کورنۍ او دوستانو د ملاتړ نشتون، د مسلکي پوهې او مهارتونو کمښت او د تشبث د اهمیت په هکله د عامه پوهاوي نشتون شامليږي چې له بهرنیو علتونو وروسته د خصوصي تشبث د کموالي سبب کیږی. ددې تر څنګ د دولت د اقتصادي پالیسیو په برخه کې په وارداتو باندې د لګول شوو تعرفو کموالی، د مالیاتو لوړ نرخ، د یو فعالیت د قانوني جواز ترلاسه کولو د پروسې پیچلتیا او د دولتي پورونو/ مرستو کموالی شامليږي چې له بهرنیو او داخلي علتونو وروسته د خصوصي تشبث د کموالي لامل کیږی.

**وړاندیزونه**

د څېړنې په نتیجه کې د خصوصي تشبث د ودې او پراختیا په موخه متشبثينو او دولت ته لاندې وړاندیزونه کیږي:

**لومړی- متشبثينو ته:** د هر کاروبار د پیل او پراختیا لپاره باید لومړی د بازار قواوې (عرضه او تقاضا) تحلیل او تجزیه (SWOT analyses) شي او وروسته بیا اړین تصامیم ونیول شي.

**دويم- دولت ته:** په وردګ ولایت کې د خصوصي تشبثاتو د پراختیا له پاره ځانګړي صنعتي پارکونه او کافي اندازه سهولتونه رامنځته شي.

د مختلفو پروګرامونو لکه سوشیال میډیا، ملي او نړیوالو کنفرانسونو او نورو مؤثرو طریقو څخه په استفادې په ټولنه کې د تشبث رامنځته کولو انګېزه رامنځته کول.

## اخځلیکونه

Arif, N. A., & Abdullah, M. A. B. (2020). Problems and global challenges of small and medium enterprises (SMEs) in Iran. *International Journal of Science and Business, 4*(12), 80–92. https://doi.org/10.5281/zenodo.4271136

Flomberg, O. (2020). *The decline of American entrepreneurship: An analysis of causes of macro market trends and a changing American economic system.* Chancellor's Honors Program Projects. https://trace.tennessee.edu/utk_chanhonoproj/2378

Frick, R. W. (1995). Accepting the null hypothesis. *Memory & Cognition, 23*(1), 132–138. https://doi.org/10.3758/BF03210562

Gaybullaev, O., & Oliński, M. (2020). Opportunities and challenges faced by small and medium enterprises in Uzbekistan. *Olsztyn Economic Journal, 15*(4), 285–299. https://doi.org/10.31648/oej.6852

Mudasir, N.(2019). The Role of Entrepreneurship on Employment Generation in Afghanistan; Kandahar Province as Case study.

Oliński, M. (2020). Efficiency of the public financial support granted to social enterprises. Entrepreneurship and Sustainability Issues, 7(3), 2095–2108. https://doi.org/10.9770/jesi.2020.7.3(43)

Orlandić, M., Dodovska Blagoevska, K., & Dodovski, A. (2023). Development of Small and medium enterprises in Serbia for the period 2015−2020. years. Journal of Process Management and New Technologies, 11(1-2), 111–121. https://doi.org/https://doi.org/10.5937/jpmnt11-45013

Nawabzada, S. (2020). Barriers to boosting private sector development in Afghanistan-A case study of Khost Province. https://doi.org/10.9790/5933-1105013438

Shinwari, W. K., & Adel, K. (2019). Evaluation of Factors Affecting Small and Medium Enterprises Growth in Afghanistan. Kardan Journal of Economics and Manangement Sciences, 4. https://doi.org/10.31841/KJEMS.2021.42

Butler, E. (2021). *An introduction to entrepreneurship*. Kabul: Afghanistan Economic and Legal Studies Organization (AELSO). ISBN: 978-0-255-36794-3.

Baloch, S. (2017). Small and Medium-Size Enterprises in Pakistan: Definition and Critical Issues. Pakistan Business Review. https://doi.org/10.22555/PBR.V19I1.1245.

Ministry of Economy of the Islamic Republic of Afghanistan. (2021, March). Maidan Wardak provincial profile: An overview of economic and social development. Kabul: Directorate of Economy.